سال ششم شماره هشتم
شماره مسلسل ۸۷۵
یکشنبه ۶ قوس ۱۳۸۴ هش
۲۵ شوال المکرم ۱۴۲۶ ه ق
27 November 2005

DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

جنرال وردگ:

د پوځ د بشپړیدو کار نیمایي ته رسیدلی

ملت ته د دولت لخوا دحساب ورکولو د اونۍ په پنځمه ورځ دهیواد ددفاع وزیرجنرال عبدالرحیم وردگ وویل چې د ملي اردو د جوړیدو کار نږدې ۵۲ په سلو کې بشپړ شوی دی

ددفاع وزیر جنرال عبدالرحیم وردگ په تیر یوه کال کې خپله مهمه لاسته راوړنه سرکال په ملي اردو کې دځه پاسه ۱۸۰۰۰ افسرانو او پوځیانو گمارل وښودل ده وویل چې دد فاع وزارت سږني بو دجه څه دپاسه ۲۰۰۰ میلیونه افغانۍ وې چې ډیره برخه یې مصرف شوې ده

همدا راز ده وویل په تیر یوه کال کې ۴۱ زره پخوانې وسله وال بې وسلې شوي او زیاته یې کړه چې د روان کال په اوږدو کې ددښمن کم او زیات ۵۰۰ جنگیالي د اردو د سر تیرو له خوا ژوندي نیول شوي دي ۴مخ

په کاپیسا کې درې پروژې جوړیږي

دمتحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایی اداره US Aid به دکاپیسا په ولایت کې دبیا رغاونې لمه دریو پروژو سره مرسته پیل کړی دکاپیسا والی عبدالستار مراد وویل چې د US Aid یوه پلاوی دتیرو دریو ورځو راهیسې په دغه ولایت کې دروغتیا، کرنې او بیا رغاونې په برخه کې یو شمیر سروی گانې بشپړې کړی دی او ژمنه یې کړې چې ډیر ژر به په دغو پروژو کې عملی کار پیل کړی د کاپیسا ولایت خلکو د US Aid په دغه نوی هوډ خوښی څرگنده کړې ده او ددوی کاري دسیمې د زرگونو خلکو په حل کې یو ستر مثبت گام بللی

حلمه به رئیس امنیت ملی ولایت خوست

وزارت دفاع کشور به انتشار اعلامیه یی خبر داده است مسوولان کشف و استخبارات این وزارت دوتن از افرادی را که با خود مواد انفجاری را حمل میکرنند روز گذشته در منطقه تورخم ولایت ننگرهار بازداشت کرده اند تورخم در نزدیکی سرحد کشور با پاکستان قرار دارد. ص۴

ولسوالی چرخ لوگر راآتش زدند

حوالی یک شب گذشته بالای ولسوالی چرخ ولایت لوگر که پانزده کیلومتر بطرف جنوب غرب مرکز آنولایت قرار دارد صورت گرفته معاون ولایت لوگر عبدالغیاث پتنگ گفت که حمله از طرف مخالفین دولت صورت گرفته وهیچ کسی در این حمله کشته ویا زخمی نشده اما او گفت که خسارات بجا مانده زیرا که حمله بالای دیپوی از سلاح ومهمات صورت گرفته ودیپو حریق گردیده و تمام ساختمان ولسوالی چرخ ولایت لوگر را حریق کرده است. به گفته آقای پتنگ از حمله کننده کدام کشته ویا زخمی هم بجا نمانده ص۴

د لوی او بښونکي خدای په نامه

سرمقاله

کم معاشونه او تش په نامه کوپونی کتابچې!

داوږدې مودې جگړو. خپل سریو. بی بندوباریو. تربګنیو ناخوالو. قیمتی. بی امنیتی. بی قانونی. بدو اخیستلو او بالاخره له وزگارتیا څخه دخلاصون په برخه کې دهیوادوالو هیله داوه چې په هیواد کې به دمرکزی او قانونی دولت په رامنځته کیدو سره تولنه دقانون اوقانونیت خواته روانه او دکړیدلی اولس په ژوندانه کې به هوساینه رامنځته شي.

کار به اهل کار ته وسپارل شي او دکار په مقابل کې به خپل تاکلی حقوق اوامتیازات ترلاسه کړي.

خو دریغه چې په دې څلورو کلونو کې دبهرنیو مرستو په کیدون سره هم دددولتی مامورینو په ژوندانه کې دکمو معاشونو او دپرون په څیر دپوره کوپونی موادو د ورکړی په برخه کې څه دسترګو لیدلو وړ بدلونونه رامنځته نه شول.

دمامورینو لپاره کوپونی مغازې تشې په نامه جوړې شوی او یوازې کله کله غواړې. چای. او صابون چې په ډیر ټیټ کیفیت کی دی ایښودل سوی چې له کوپونی مغازو څخه یې دغو موادو داخیستلو په برخه کې دمامورینو تقاضا کمه کړیده.

دڅلورو کلونو په موده کې ددولتی مامورینو لاس بازار ته غځیدلی دی د نه کنترول کیدونکی ازاد بازار!! او دبازار څخه ددولتی مامورینو دخریداری په صورت کې دهرې ورځې په تیریدو سره نرخونه لوړیږي.

په بازارونو کې دخپل سره نرخونو دلوړوالی له علتونو څخه یو هم ددی چې دعرضی په وړاندې تقاضا هم په مستقیم تناسب سره زیاتیږي.

که څه هم دارزاقو دعمومي ریاست له خوا ددولتی مامورینو لپاره دکوپونی کتابچو له لارې بیا هم دځو جنسونو د ورکړې ژمنه شوې خولاتر اوسه دولتی مامورین په دغه ژمنه باور نشي کولای.

ویل کیږي چې دا به دتیر روان کال دکوپونی کتابچو په څیر وی چې په دوو کلونو کې کوپونی کتابچې ختمې نه شوې دولت ته لازمه ده چې دخلکو غږونو ته دځواب ورکولو په برخه کې دمامورینو دمعاشونو دزیاتولو او دنرخونو دکنترول ترڅنگ له بازار څخه دمامورینو لاس لنډ کړي.

دولت کولای شي ددغه اقدام په کولو سره نه یوازې دا چې دعرضی دزیاتوالی او د نرخونو دکموالی په برخه کې مثبتې نتیجې ترلاسه کړی بلکې ددولتی کارکوونکو دژوندانه په ښه والی او له بازار څخه دلاس په لندولو سره د اختلاس او بدو اخیستلو مخه هم نیولای شي چې په اوسنیو شیبو کې یې تولې دولتی ادارې نیولی . قانونیت یې تر پښو لاندې کړی دی او کابو ښکاره ښه یې غوره کړې ده

له جومات څخه غلا شوې مالونه تر لاسه شول

دبلخ ولایت امنیتی پولیس په دې وتوانیدل چې پدغه ولایت کې له تاریخی جومات څخه چې دخواجه پارسا دجومات په نامه یادیږي غلا شوی قالینې بیرته ترلاسه کړي ددغه جومات درې تختې لرغونی اوسترې قالنې چې د روان کال دغبرگولی په میاشت کې له نوموړی جومات څخه غلا شوی وی پرون د مزار شریف له ښار څخه دباندې په یوه کور کې وموندل شوې.

دچارواکو او دسیمې دیوشمیر خلکو په اند دغه قالینې نږدې سل کاله تاریخی لرغونتوب لري دبلخ دامنیې قوماندانی مطبوعاتی مسوول ویلی چې دغه قالینې یې دیوه کور په زړه ځاه کې موندلی دی.

دنیشه یې توکو په هکله اندیښنه



روسی چارواکو ویلی چې له افغانستان څخه دنشه ییی توکو بې کچې قاچاق کولو هغوی اندیښمن کړی دی.

دغه چارواکی وایی چې دنشه ییی توکو په سلو کې نوی دمنځنی اسیا له لارې روسیې ته لیږدول کیږي په دې وروستیو کې د سایبریا او والگا په سیمو کې دهیروینو سترې زیرمې دهغه ځای دپولیسو لاس ته ورغلی دی. ۴مخ

ددوو وسله والو ډلو ترمنځ نښته

تیره ورځ دخوست ولایت اړوند دیعقوبیو په ولسوالی کې د دوو وسله والو ډلو ترمنځ دیوې شخصی موضوع پر سر په یوه نښته کې یو تن مړ او درې نور ټپیان شوی.

دخوست دامنیی قوماندانی چارواکی وایی چې ټپیان دخوست په روغتون کې دی او د پیښې په اړه دپولیسو پلټنې روانی دی

دوه مړه او دوه ټپیان

دخوست ولایت اړوند دیاك په یوه سرحدی ولسوالی کې د کوچکیو په نوم په یوه غرنی سیمه کې دیوه ماین دچاودیدلو له امله دیوې کورنۍ دوه تنکی ځوانان چې عمرونه یې دنهو او لسو کلونو ترمنځ ښودل شوی وژل شوی او دوه نور کوچنیان سخت ټپیان شوي دي.

دخوست امنیتی مسوولین وایی چې دغه پیښه هغه مهال وشوه چې دغو تنکیو ځوانانو دجگړو له وخت څخه یو ناچاودلی ماین وموند او هغه یې په کانو وویشت او چاودنه رامنځته شوه دوی وایی ټپیان دخوست ملکی روغتون ته لیږدول شوی خو دیوه ماشوم روغتیایی حالت ښه نه دی.

یو جهادی قوماندان خپله وسله وسپارله

پرون په بغلان کې یوجهادی قوماندان امیر گل خپله شپیته میله وسله په دغه ولایت کې دوسلو ټولولو مسوولینو ته وسپارله په دغو وسلو کې یو څلویښت میله سپکه او نولس میله درنه وسله - ۴مخ

چرا از معاهده دیورند عبرت نه گرفته ایم؟

عبدالجمیل جبلی

مذاکرات سه جانبه ای مبنی بر صادرات گاز ترکمنستان به پاکستان ، یا عبور پایپ لاین ازخاک افغانستان، که عجالتا با در نظرداشت وضع اقتصادی افغانستان و عواید کمیشن عبوری چند میلیون دالری آن، مفید تشخیص شده و قرار است که در اواخر سال جاری عیسوی با پا درمیانی و سرمایه گذاری بیش از سه میلیارد دالری کانسرسیونی ، اقدامات عملی درین راه صورت گیرد.

ما به عواید دور رس این موافقت نامه و ضربت مدهش آینده ان استخراج و تولید وصادرات آینده منابع زیرزمینی وطن خود، (مانند گاز و نفت، اهن ومس واحجار کریمه وغیره وغیره) اصلا توجهی وحتی یادی نمی کنیم.

البته روزیکه آب ها از آسیاب ریخت وزمین های در افغانستان خریداری شد (که از کی ؟ بکدام قیمت؟ عواید آن به جیب کی؟ خریدار کیست؟ و برای چند سال که همه امور آن گنگ وچشم پت پیش می رود) و پایپ لاین ها تمدید و صادرات ترکمنستان شروع و پاکستان عزیز دیرین مانیز سیر آب شد ویا بعد ها خود اکتفا! و در آن فرصتیکه فرزندان با دانش ما نیز فرصت استخراج و تولید این منابع غنی را (مانند نفت و گاز استخراج شده شبرغان، سروی مکمل منابع نفت و گاز هرات و کتواز پکتیکا که توسط کمپنی توتال فرانسوی در دهه ۱۹۷۰ میلادی تکمیل شده که گاز کتواز مواد سوخت وحرارتی تمام پکتیاو پکتیکا، میدان وردک، لوگر و کابل را بخوبی تکافو کرده و با شواهد مستندیکه اسناد آن به انجنیر غلام علی کشتمند معین فواید عامه وقت تسلیم داده شده بود وتیم فرانسوی ها جبراً از افغانستان اخراج شدند) بیایند ودست بدامان دوستان آزمون شده پاکستانی ما ببرند تا به اساس قوانین بین المللی حقوق ترانزیتی صادراتی کشور های محاط به خشکه به ما برادارانه راه بدهند که ازین حق خود ها با خط مستقیم و راه کوتاهترین به بنا در وابحار استفاده کنیم، آن وقت خواهیم دید که این مسامحه هاوکوته بینی ها امروزی چه گلهایی را به آب داده است که یا تولیدات خود راپله بخوریم یا در بدر بتپیم تادر اخیر از گاو غدودی هم بما اگر برسد وباآن مشکور هم باشیم و بحق دولت مردان امروزی ابراز تنفر بدرد نخور و ناوقت بکنیم! مانند امضای معاهده دیورند که پارچه های بدن ما با آن بریده شده، این مرتبه، پای همسایه عزیز مانرا بر گلوی حیاتی واقتصادی وطن بپذیریم. و چه سودی اگر آن وقت داد بزنیم که ازما بوده و برما بوده!!

جای تعجب درین است که چرا فردای وطن و سعادت فرزندان خود را، بدون حتی تذکری از تولیدات خود ما و صادرات آینده آن (در متن همین قرار داد دیورند مانند) باتعهد قطعی دوست پاکستانی از حق ترانزیتی افغانستان و تعمیل عندالموقع آن درین متن نادیده می گیریم و قطعاً به فراموشی میگذاریم!

آیا از معاهده ننگین دیورند اول ۱۸۹۳ م عبرتی نگرفته ایم؟ یقین دارم و تمام ملت با افتخار افغان بخوبی درک می کند که تجاهل و فرو گذاشت درین راه وامضای چنین قرار دادی (بدون قید حق مسلم ترانزیت بین المللی و مشروع افغانستان منحیث یکی از کشورهای محاط به خشکه) ظلم نه بلکه جرم پنداشته می شود.

تمام جهان از رهایی ۲۰ هزار کانتینر های مواد خوراکی ترانزیتی وارداتی افغانی که درپاکستان عزیز ما مصادره وپوسیده بود و تازه رها شده خوب خبر دارند! و هزار و یک درد سر دیگر که آزموده را نباید آزمود.

دتریاکو پر ځای دې نور حبوبات وکرل شي

عبداللطیف منت بار

افغانستان یو غریب او بیوزلی هیواد دی چې په تیرو دېرش کلنو جګړو کې دومره ځپل شوی چې تر ډېرې مودې پورې پر پښو نه شی دریدلی.

ددې هیواد دبربادی موخه یوازې دبې مسولیته کسانو په بې پروایی کې تر سترګو کولای شو چې د بهرنیانو په غوښتنه یې دخپل هیواد ودانی ته ملا ونړله او خپل ګران هیواد یې په ورانی بدل کړ. دا چې هیواد په هغه وخت کې قانون نه درلود د وخت ټولې چارې به په بې قانونی او بې مسوولیتی کې سرته رسیدلی هغه افغانان چې د بې روزګاری له امله دهوټلونو مخې ته اوږده غزیدلي یا په ناپاکو ځایونو کې شپې تیروي تر اوسه پورې ورته چا دعلاج او تداوی له پاره نه روغتون جوړولو ته پاملرنه کړی اونه یې ددوی دروغتیا څه خیال ساتلی دی.

همدغه وجه ده چې زموږ ځوان نسل په زیاته شمیرنه په نیشو اخته شوی او خپل ژوند ته یې په خپله لغته وهلی ده.

په نیشو اخته کسان چې دبدن توانایی له لاسه ورکړی دفلج په ناروغی هم اخته شوی او که در ملنه یې ونشي په ډېر لږ وخت کې به یې ژنی وتړل شي دا ددولت دنده ده چې ددغه راز ناروغانو روغتیا ته پاملرنه وکړي او په زړه پورې لارې چارې ورته ولټوي.

دجنګ په اوږدو کې چې وچکالی هم ورسره لاره درلوده زموږ دهیواد اقتصاد ته زیات تاوان رسیدلی دی. دجنګ نه په را وروسته کلونو کې چې عبوری او موقتي دولت پر پښو دریدلی او د هیواد اساسی قانون تصویب شوی دی تر یوې اندازې پورې یې ددولت چارې تر خپل حاکمیت لاندې راوستی دی خو د امنیت په اړه هیڅ نه دی شوی زموږ یو زیات شمیر وطنوال په و حشت بربریت او ترور کې دستونزو نه ډکې شپې سرته رسوي. دا ځکه چې ملي اردو او ملي پولیس دومره واکمن نه دی چې ددوی دسر او مال دساتنې تضمین دی وکړی په اوسنیو شرایطو کې چې هیواد مو بیا ودانی ته ضرورت لري که ددې په څنګ داسلام په دغه پاکه خاوره کې دمخدره موادو کرنې او ترویج ته لاره اواریږي. هیڅ مسلمان افغان یې نه شي منلی. دا ځکه چې دتریاکو کښت او کرنه یو ناروا عمل دی چې د ټولنې خیر او برکت له ځان سره وړي او اوسیدونکی یې دزیاتو مشکلات او ستونزو سره مخامخ کوي.

مسلمانان په عمومی توګه دخپل خدای اوامرو ته سترګې په لاره دی کوم شی چې ناروا بلل شوی د هغې نه په کلکه سره ځان ژغوری په اوس وخت کې چې د"سنلسي) نړیوال مشورتي سازمان دتریاکو موجودیت دورځنیو درملو دترکیب مهمه وسیله بللی او غواړی چې په هیواد کې ددغه ناولی بوټي ترویج او کښت ته دقانونی بڼې په ورکولو سره یوځل بیا دا هیواداو مسلمان ملت په دغه لومه کې راګیر کړی او زخمونه یې پرسوب ته ورسوي.

موږ په دې اړه د (سنلیسی) نړیوال مشورتی سازمان نه مشوره ورکوو چې هیواد دغریبو خلکو بیوزلی په نظر کې ونیسي او دخپل ضرورت وړ درملو له پاره دې خپل دغه دمخدره توکو دترویج پروګرام دې په کوم بل هیواد کې پلی اودا اجرا لاندې ونیسي او خپلو درملو ته دې په هماغه هیواد کې دمخدره موادو دتولید له پاره لارې چارې برابرې کړي دا ځکه چې په اوس وخت کې چې افغانان په اقتصادی کمزورتیا باندې اخته دی زیار باسي چې خپل اقتصاد د نورو حبوباتو په کرنه پر پښو ودروی او د تریاکو په بوټي باندې دبطلان کرښه راکاږي.

موږ باید څومره ازادي ولرو؟

اشرف

ازادي یو داسې نعمت دی چې دتاریخ په اوږدو کې ددغه نعمت دلاسته راوړلو اوساتلو په خاطر اوږدې جګړې شوی دی او د تاریخ پاڼې په ډکې شوی دتاریخ په اوږدو کې داوږدو جګړو کیدلو علتونه هم په همدې کې را نغاړل کیږي چې ځینو د خپلو واکمنیو دپراخولو په خاطر دنورو ملتونو په حقوقو باندې دخیټې اچولو په خاطر لښکر کشې کړی دهغو مظلومو حقوقو یې په زور او جبر تر پښو لاندې کړی دی او په مقابل کې یې د ازادی په خاطر مظلومان جنګیدلی دی زموږ هیواد هم دتاریخ په اوږدو کې له داسې کشمکشونو کیسې کوی او زموږ نیکونو په دې لاره کې بری تر لاسه کړی اوله تاریخی ویاړونو څخه موتاریخ ډک دی دا خو دازادی سیاسی خوا ده چې یو ملت په سیاسی لحاظ دپردیو له واک څخه ځان خلاصوی خو کله کله داسې هم شوی او کیږي چې دیوه هیواد په دننه کې هم واکمن اشخاص دخپلې واکمنۍ دټینګولو لپاره په اولس باندې هر ډول بندیزونه ولګوی او دخپلو حقوقو دلاسته راوړلو لپاره څوک خپل غږ نشی پورته کولای. او که یې پورته کړی دمرګ لور ته جبراً کشول کیږي نو پداسې حالاتو او شرایطو کې ټولنه دمختنګ په ځای شاته حرکت کوی

په داسې واکمنو کړیو کې هغه څوک دکار لپاره استخدامولای شي چې ګټې یې سره شریکې وی په اولس کې له مخفی مخالفو حرکتونو دټینګولو لپاره واحد لاس وی.

دازادی دختمولو لپاره په قلم او ژبه دبندیز دلګولو لپاره شرایط معمولا په وروسته پاتو ټولنو بڼه برابر وي چې اولس دتعلیم د وروسته پاتې والی له امله دخپلو حقوقو څخه یا بی خبره ساتل کیږي اویا خو یې ویلای نشي پداسې ټولنو کې تر هرڅه لومړی دتعلیم مخه نیول کیږي او یا خو یې یوازې کمی سطحه تر یوې اندازې په پام کې نیول کیږي.

موږ دداسې واکمنیو او ولسونو ښکاره بیلګې په خپل هیواد کې ولیدلی پرون په موږ هم داسې بندیزونه ولګیدل خو نن شرایط تر پرون بل ډول دی نن په هیواد کې هیوادوالو ته ازادی په نسبی توګه ورکړل شوی ده مطبوعات ازادی دی تر سانسور دمخه چیږي را دیو ګانی او تلویزیونونه په خپل سر په کار بوخت دی هر څه وایی اوهر څه لیکی او هر څه کوی. او ډاډ دی چې ازادی ده خو پوښتنه داده چې موږ ایا رښتیا باید همداسې ازاد اوسو او ایا رښتیا همداسې ازادی راکړل شوی ده که چیرې په وروسته پاتې ټولنه کې بشپړه ازادی ورکړل شي ایا پداسې ټولنه کې چې لاتعلیم عام نه وی لا ارتباطات ختم شوی نه وی له ازادی څخه ناوړه استفاده نشی کیدای ویلای شو چې خامخا به کیږي او دداسې ازادی په شته والی سره هغه څوک خپل مخالفین په بیلابیلو لارو ټکوی اوناوړه ګټه به تری اخلي.

په داسې ازادی سره به خامخا له مذهبی او کلتوری چوکاټو څخه ځینې ووځی او بیا به داسې حرکتونه منفی پایلې رامنځته او عکس العملونه به راوپاروی.

نو باید له ځان سره تر ویلو او لیکلو دمخه دې پوښتنې ته ځواب ووایو چې موږ څومره ازاد یو چې ووایو او ولیکو؟

موږ څنګه ووایو او ولیکو داسې څه چې دعکس العملونو په راپور ته کولو مستند اسنادونه لرو. موږ ولې داسې څه ووایو او ولیکو چې زموږ مذهبی او کلتوری خواوو ته ټکان و رکړي.

دا منو چې زموږ اوسنی دولت ډیر نیمګړی دی هر راز بدبختی موجود دی هره اداره او هر وزرات باندې زیات انتقادونه شته خو باید زموږ انتقادونه په یوه معقول حد کی وی زموږ انتقادی لیکنې اوویناوې باید د ټولنې دګټو او پرمختیا سبب شي او دحل لارې چرې یې هم په ګوته شي موږ باید داسې ازادی ونه لرو چې هر څه مو زړه وغواړی هغه وکړو او هغه ووایو زموږ په ویناوو او عمل کې باید دچا د شخصی توهین او تحقیر خبره نه وی د چا سپکاوی ونشي او زموږ له اعمالو او کړنو څخه دازادی په پام کې نیولو داسې منفی پایلې راونه زیږوي چې دټولنې دخلکو دزیان او داجتماعی فساد سبب شي او یا خو په شخصی توګه چاته زیان ورسیږي.

دا منو چې باید موږ ازادی اوسو او دپرونیو بندیزونو دراتګ مینه وال نه یو خو دومره هم نه چې هر څه ووایو او هر څه وکړو موږ باید تر هر څه دمخه دتعلیم خواته مخه وکړو او په یوه توازن کې وراندې لاړ شي.

داسې نه چې یوازې اولس بلکې چارواکی هم باید داولس په روا او حقو انتقادونو باندې ځان وپوهوی او دحل لاره یې پیدا کړی څو وکړای شو هیواد له اوسنی بحران څخه وباسو او د یوه پرمختللی حرکت په لوري کې ډاډه او کامیاب ګامونه واخلو.

ACKU

متصدی: ناصر بشر

رانګونکي د ځوانانو ده

په ښوونځیو کې دیو نیفورم اړتیا

د نړۍ په هره ټولنه کې دښوونځیو دزده کوونکو لپاره خپل خپل یونیفورم ټاکل شوی وی دیونیفورم شته والی نه یوازې دا چې دښوونځی او تر ښوونځی دباندې زده کوونکو ترمنځ توپیر پیدا کوی بلکې دروانی پلوه په ځانګړې یونفورم کې خپله زده کوونکی ځانته ته د یوه شخصیت په توګه ګوری او تر زیاتې اندازې پورې دزده کوونکو په تګ راتګ کې هم یو نظم رامنځته کوي.

خودتیرو لسیزو په اوږدو کې دریشې او یا که ووایو د یونیفورم دود له منځه تللی دی زموږ په ولایاتو، ولسوالیو او کلیو کې هم نه یوازې دا چې زده کوونکی دریشی نه کوی بلکې دهغوی استاذان هم په شخصی بیلابیلو لباسونو کې د زده کوونکو په څیر روان وي. په حقیقت کې یې له نورو عوامو سره توپیر نه کیږي اوس موږ دهیواد په جوړولو باندې بوخت یو باید او لازمه ده چې دجوړولو په څنګ کې د وزارت اړونده اداري دښوونځیو زده کوونکو دیو نیفورم په باره کې یو نوی نظر وکړی څو وکړای شو زموږ زده کوونکی په یوه منظم او واحد دیونیفورم دښوونځیو په دروازو ننوزی دا کار به له یوې خوا دنظم او دسپلین په رامنځته کولو کې رول ولري اوله بلې خوا زیات امکانات موجود دی چې داسې زده کوونکی دخپلو لوستونو او زده کړې په برخه کې متوجې شي.

اوسنیو تجربو بیا وښودله چې کوم ښوونځی په واحد یونیفورم کې تګ راتګ کوی کیفی نتیجه یې تر هغو زیاته ده چې په شخصی لباس کې ښوونځی ته ځی.

دبیلګې په توګه په کابل او شبرغان کې دافغان - ترک لیسې زده کوونکی په واحد یونیفورم کې ځی دغه راز دجلال آباد د امام البخاری دلیسې زده کوونکی هم په واحد یونفورم کې دی او ویلای شو چې ددوی سویه تر نورو په زړه پورې ده.

ولي زموږ ځوانان دبهرنی موسیقی مینه وال دی؟

وایی چې موسیقی دروح غذا ده اوپه نړۍ کې داسې ټولنه نشته چې موسیقی ونه لري او دهرې ټولنې اوسیدونکی له خپلې موسیقی سره مینه لري موږ هم په خپل هیواد کې خپله ملی موسیقی لرو که څه هم دیوې ټولنې موسیقی څخه بله ټولنه متاثره کیږي خو بیا هم هر چاته خپله ګرانه وي.

زموږ په ټولنه کې چې پرون دطالبانو د واکمنی په وخت کې په موسیقی باندې بندیز لګیدلی و او نن سبا دموسیقی په خپرولو باندې پابندی او بندیز پای ته ورسیده شخصی تلویزیونونه او رادیوګانې رامنځته شوې.

که هم دبصری او سمعی خپرونو له اهدافو څخه یو داوی چې خپل لیدونکی خوشحاله وساتی او دهغوی غوښتنې په پام کې ونیسي. خو لکه څنګه چې ګورو دډیرو ځوانانو له خوا دموسیقی په هکله ورته تلیفونونه کیږي دخپلې موسیقی په ځای د هندی او لویدیځو غوښتنه کوی له دې څخه دا معلومیږي چې لاتر اوسه پورې زموږ ځینې ځوانان دخپل راتلونکی په هکله بی فکره دی او دخپل ملی کلتور او نورو شتمنیو په هکله نه څه فکر لري او نه څه پروګرام ورسره موجود دی یوازې دموسیقی په لیدلو او اوریدلو دوی ځان بوختوی نو پداسې حالاتو کې دا د چادنده ده چې ځوانان له هندی او نور لویدیځې موسیقی له اوریدلو څخه راواړوي؟

کله کله داسې هم کیږي چې دشپې په ټولو تلویزیونونو کې هندي فلمونه وی ایا زموږ هیواد په دې شرایطو کې چې وروسته پاتې یو له تعلیم نه وروسته یو زموږ ځوانان دې ته اړه لري چې د هندی فلمونو په لیدلو کې ډوب شي او که دهغوی په ځای مطالعه وکړی زده کړه وکړی او دکورنی په وړاندې خپل رسالت سرته ور سوی.

تر هر څه لومړی دکورنیو دنده ده چې په خپلو اولادونو فشار راوړی او توجه یې دعلم او پوهې خواته واړوی او تل یې څارنه او کنترول په غاړه ولري. او که چیرې کورنی دا کار ونه کړی ویلای شو چې دخپلو ځوانانو راتلونکی برخلیک به یې تریخ او له ستونزو څخه ډک وینو. دداسې ځوانانو راتلونکی ژوند نه یوازې دا چې دهغوی لپاره خواږه نه لري بلکې دخپلې کورنۍ او ټولنې لپاره به یوه دروند بار وي.

زموږ ځوانان باید دپردې په ځای له خپلې موسیقی سره مینه ولري اودخپلې ترڅنګ تعلیم ته پاملرنه وکړي.

وضعیت معارف را بهبود بخشیم

په هیواد کې دښوونې او روزنې حالت داندیښنې وړ دی ورځ په ورځ دښوونې اوروزنې دکیفی خوا دوروسته پاتې کیدو په برخه کې زیات انتقادونه رامنځته کیږي خو لاتر اوسه پورې دتعلیم په برخه کې کمزوری خواته پاملرنه نه ده شوي دښوونې اوروزنې داستادانو له خوا ددغه تعلیمی سیستم دښه والی لپاره بیلابیلې نظریې ورکړل شوی دی چې موږ په خپل وار کله ناکله خپرونې کړی دی خو دریغه چې تر اوسه پورې د کیفی سطحې دلوړولو او په ښوونځی کې د رامنځته شوې بی نظمی دپای ته رسولو په برخه کې لازم اقدامونه نه دی شوی موږ په دې لیکنه کې د نادریې دعالی لیسې دیوه استاد بشیر احمد نظریه دښوونیز سیستم دښه والی په باره کې په لنډ ډول وړاندې کوو.

راه حل شیوه تعلیم وتربیه کنونی در کشور این است که باید وزارت معارف آنرا علمی و در جریان تطبیق قرار دهند.

۱_ وزارت معارف مکلفیت دارد که باید تمام کتب درسی را برای تماما مکاتب افغانستان ترتیب و در بد سترس آنها قرار دهند.

۲_ امتحانات ۳ ماهه و ۶ ماهه که در جریان دو سال تطبیق شد چون نتیجه مثبت نداشه باید از بین برده شود ودر امتحان چهار نیم ماه و سالانه شود.

۳_ برای جلوگیری از بی بندوباری در مکاتب قوانین جدید و لوایح جدید ترتیب گردد وچنین قوانین وضع شود که شاگردان خود مسوولیت احساس کند. نه اینکه شاگردان مانند قوانین کنونی که شاگردان تا ۳۰ فیصد هم اگر حضور داشته باشند شامل امتحان شود که این خود باعث شاریدن معارف میگردد.

۴_ همچنان نقش والدین در تربیه درست اولاد شان است یعنی والدین باید متوجه اولاد شان باشد و در هر ماه یکبار در مکتب که اولاد شان مصروف دروس هستند باید مراجعه و با اداره مربوط دریک مثلث سه گانه صحبت شود.

۵_ جلوگیری از اسناد جعلی که از کشور های خارج میباشد در حالی که هیچ مکتب نخوانده شامل صنف ۱۰، ۱۱، ۱۲ میشود .

۶- از اسناد جعلی در داخل و از خارج کشور باید بصورت قطع جلوگیری کنترول گردد که در فرجام میتوانم بگویم که اگر گفته های بالا بر آورده گردد امکان دارد در حدود ۵۰ فیصد معارف متوازن بصورت نورمال روی کار شود.

حال میتوانم به رویا های خود اعتماد کنم.

دریافت و ارسال
پول در
طی چند دقیقه
محدود
به سراسر دنیا.*

WESTERN UNION®
انتقال پول

کابل بانک
Kabul Bank

- ضرورت به حساب بانکی نبوده و دریافت کننده مکلف به پرداخت هیچ نوع فیس نمی باشد.
- شما میتوانید از ۱۹۵ کشور پول دریافت و یا به آن، ارسال نمائید.
- این خدمات در بامیان، غزنی، حیرتان، هرات، اسلام قلعه، جلال آباد، شهر کابل، قندهار، خوست، کندز، مزارشریف و زرنج موجود است.

٠٧٩ ۵٨٠۴۴۴ / ٠٧٠ ۲۹۹ ۲۴۱
٠٧٩ ۲٧٠ ٠١٩ / ٠٧٠ ۲٧٠ ٠١٩

* تابع اوقات فعالیت نمایندگی های دریافت کننده میباشد.

©2005 Western Union Holdings, Inc. All Rights Reserved.

حمله به رئیس ...

این اعلامیه در مورد وابسته گی دو تن بازداشت شده توضیح نداده است. دراین حال گذارش های دریافتی از ولایت پکتیا حاکی از آنست که افراد مسلح ناشناس بالای موتر های مربوط به رئیس امنیت ملی آنولایت حمله یی را انجام داده اند.

این حلمه روز گذشته در مربوطات ولسوالی حدران ولایت خوست صورت گرفته وحمله کنندگان از محل فرار کرده اند یکی از مسوولین امنیت ملی اظهار داشته است که درین حمله به کسی آسیب نرسیده اما یک موتر نوع پیکپ ریاست امنیت ملی خساره مند شده است.

ولسوالی چرخ ...

وی اضافه نمود که گفته نمیتواند که کسی از مخالفین یا حمله کننده کشته شده و یاخیر و همچنان تا ساعت های بعد از ظهر دیروز از دیپوی مهمات و سلاح ولسوالی چرخ ستون های دود بالا بود صدای انفجار نیز یکی پی دیگر شنیده میشد.

این ساختمان قبلا یک مدرسه بود که موقتا ولسوالی در آنجا امور خویش را به پیش میبرد. همچنان در گزارش ها از مفقود شدن چهار سرباز خبر رسیده بود که سخنگوی وزارت امور داخله آنرا رد کرده و گفت که از افراد امنیتی ولسوالی کسی مفقود نگردیده.

د پوځ بشپړېدو کار ...

خو دا يې هم ومنله چې لا هم د ملي اردو سرتيري دبهرنيو ګواښونو په وړاندې دهېواد د پوره دفاع توان نه لري

د مخابراتو وزير انجينر اميرزی سنګين په تير يوه کال کې د لسګونو ميلونو ډالرو د عايداتو دترلاسه کولو څخه يادونه وکړه.

دحساب ورکولو داونی په وروستی ورځ د د مخابراتو وزيرانجينر اميرزی سنګين ژورنالستانو ته وويل نژدې تول هيواد يې د تيليفون په مزی سره ترلی او سږ کال يې له دې لارې څخه دپاسه ۲۴ ميليونه امريکايي ډالره عوايد ترلاسه کړي دي

د مخابراتو وزير وويل چې د موبايل تيليفون په برخه کې يې د خصوصی سکتور له خوا ۳۰۰ ميلونه ډالره پانګه اچول شوي

کابل ښاروال غلام سخی نورزاد بيا تر تولو زيات د خپلې ادارې د زيات پرمختګ يادونه وکړه

د دولت له خوا ملت ته دحساب ورکولو په لړ کې کابل ښاروال غلام سخي نورزاد وويل چې د ښاري خدمتونو په ډګر کې يې د بلې هرې ادارې په پرتله ډير کار کړی او تر اوسه يې ۵۰۰ ميليونه افغانی عايدات لاسته راوړی دی.

د دفاع او مخابراتو د وزيرانو ترخنګ دبدني روزنې ،سرې مياشت ،لويې څارنوالی او له پيښو سره د مبارزې د ادارو د ريسانو له خوا د تير يو کال د کړنو حساب وړاندې شو چې دوی تولو خپل خپل کارونه پرځای او مثبت وښوول

ځينو ژورنالستانو او خلکو دا حساب ورکول نه بلکې رپورټ ورکول وبلل خو ځينو نورو بيا دا د حکومت له لورې يو ستر ګام وباله د ولسمشری د د فتر مشر جاويد لودين دا د حکومت له لورې د يوه ستر ګام پورته کول ګڼلي او وايي د حساب ورکولو دغه روانه لړۍ به ولايتونو ته په ورغځيدو سره دوام مومي

یو جهادی ...

چې پکې راکټ ، توپ، او هاوان شامل وو اړوندو مسوولينو ته وروسپارل شوه دیادونې وړ ده چې قوماندان امير ګل په مرکزی بغلان کې په دې تور دکاندیدانو له لست څخه غورځول شو ی و چې زياتې درنې او سپکې وسلې لري.

نیشه یي توکو ...

دروسيې چارواکو په وينا دروان ميلادی کال په لومړيو کې کله چې هغوی دپولې ساتنه دتاجکستان حکومت ته وسپارله نو دهيروينو دلېږديدلو بهير هم چټک شوی دی.

وقوع یک انفجار انتحاری دیگر در بغداد

وقوع انفجار در یک موتر بمب گذاری شده در بغداد دست کم چهار کشته بر جای گذاشته است.

وزارت داخله عراق اعلام کرده است که این انفجار زمانی رخ داد که یک گزمه نظامی امریکایی از یک میدان مزدهم در غرب شهر عبور می کرد.

هچیک از سربازان امریکایی در این انفجار مجروح نشده اند

بنابر گزارش ها، موتر در اثر این انفجار منهدم شده اند.

در خشونت های یک هفته اخیر عراق بیش از ۲۰۰ غیرنظامی جان خود را از دست داده اند.

روز پنجشنبه، ۲۴ نوامبر، در مرکز شهر محمودیه واقع در جنوب بغداد انفجاری رخ داد که در اثر آن ۳۰ نفر کشته شدند.

گفته شد که هدف انفجار محمودیه نیز یک گزمه امنیتی عراقی یا آمریکایی بوده است. یک کاروان نظامی آمریکا که در حال عبور از محل بود نیز در اثر انفجار آسیب دید.

شورشیان عراقی در آستانه انتخابات پارلمانی این کشور که قرار است در ماه دسامبر برگزار شود، به حملات خود شدت داده اند

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یك شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com